مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۱/۱۲/۰۹

# د رحمت پراخه غیږه

د رحمان با با په پیروی:

چي می مینه خدای، په تا باندي پیدا کړه
تـرکـه ما په هــغه ورځ خپله رضا کړه

مذمت ، چي تا د حسن، او ښــکلا کړه
شیخه! تا په مـونږه تـنـګه دا دنیـا کړه
ته کیني او نفــرتونو ، زهر شــیندې
زهرجــنه دي د میني، دا فضـــا کړه
ته په خوب او خیـالو کي ، تیاري ویني
ما په مینه کي ، د زړه خـونه رڼا کړه
ته یي نه ویني رحـمت پراخــه غـیږه
ما د زړه په سـترګو دي ته لار پیدا کړه
ما یـې پریښـــوده هر څــه د ده ، کرم ته
د غضــب و آیـتونو ته می، شـــا کړه
ستا بی روحه وینا ، نه کښیني په زړونو
چي قیـــمت قدر دي تیـته ، د وینا کړه
تا له وچ غـــرووره دین او ایمان وســو
ما د عجز لمن ، خیشته په خپل ژړا کړه
حکمـــتونه می په دي ټکي کي یاد کړل
چي می مخه په خپل اصل او معنی کړه
د ګداز لمبو می وینس، صاحـبدلان کړل
چي می شپه دا ستا په مینه کي، سبا کړه
ثنا خوان دي زه (نادر)هم په هر ځـای یم
چي بلبل په خیر می ، توله شـپه ثنا کړه

---

یادښت: شعر په کومو طرزونو کي چي سندر غاړو ویلي هماغه خپل موسیقیت لري، تاسي تول کولای شئ، چي په تولو هغه طرزونو کي چي سندرغاړو ویلي دي تاسي دا شعر ووایئ:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ